# اعلان

ګرانو او قدرمنو لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډیره
خواري کړې ده او په ډیر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په
غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا
زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقی جرم دے بلکې
ډیر سخت منع دی

پښتونستان

پښتو ډاټ نیټ

Distribution ,posting or copying is strictly prohibited
without written permission of Pukhto.Net

**Pukhto.Net**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# رباعیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رُباعیاتو فهرست


| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| رباعی | ۲۳۳ | زما لېونتوب ـ روښانه مزل | ۲۵۶ |
| دُنیا ـ ذهن | ۲۳۴ | ننګ اؤراج ـ حېرت | ۲۵۷ |
| ژوند ـ زهٔ ئې څهٔ کړم ؟ | ۲۳۵ | عقل ـ معمه | ۲۵۸ |
| ماشوره ـ ماده پرده ده | ۲۳۶ | د بُلبُل ژړا ـ قلم اؤ غېرت | ۲۵۹ |
| جرګه ـ افلاطون | ۲۳۷ | پښتون ولی ـ څهٔ شوې؟ | ۲۶۰ |
| مینه مستېده ـ دیدار | ۲۳۸ | پښتون اؤ زهٔ ـ ځان سره | ۲۶۱ |
| خبر ـ مینه اؤ وینه | ۲۳۹ | ننګ مې.... ـ رندې قافلې | ۲۶۲ |
| بې صبری ـ ځان سره غم | ۲۴۰ | خپل مرام ـ پښتو | ۲۶۳ |
| تکل ـ باجه ګی | ۲۴۱ | خدمت ـ پښتون یم | ۲۶۴ |
| زما میراث څهٔ ... ـ کوراؤ ګور | ۲۴۲ | روښانه سیاست ـ پت | ۲۶۵ |
| د نظر باز ـ لا ژوندیم | ۲۵۳ | د پښتو کانی ـ عَلَم اؤ علم | ۲۶۶ |
| څهٔ وؤ اؤ څهٔ .... ـ دا قافله | ۲۴۴ | اودهٔ ـ همت اؤ اِراده | ۲۶۷ |
| پښتو ـ د ننګ لار | ۲۴۵ | حېرت ـ حسن | ۲۶۸ |
| د وفا در ـ دوه رُخه | ۲۴۶ | زړګوټے ـ سیورے | ۲۶۹ |
| دُنیاداری ـ دا دین | ۲۴۷ | هستی ـ وروړ وروړ نهٔ شو | ۲۷۰ |
| یو درنګ دے ـ د چا شوه ؟ | ۲۴۸ | زما ګناه ده ـ کږې لارې | ۲۷۱ |
| ماته غل دے ـ باتوریم | ۲۴۹ | زما مضمون | ۲۷۲ |
| خپل فن د بل نقل ـ نوې ګل | ۲۵۰ | سرېتوب ـ دا ماحول | ۲۷۳ |
| دې خپل زړهٔ ... ـ ډاکټره... | ۲۵۱ | د صحرا فریاد ـ ما رها کړه | ۲۷۴ |
| هیڅ ونهٔ شول... ـ کته باز .. | ۲۵۲ | دُنیا ګنده شوه | ۲۷۵ |
| نهٔ وونه نا ـ چغه یم | ۲۵۳ | صحت اؤ ... ـ د غېرت لېونے | ۲۷۶ |
| یوه قطعه ـ ما ورکوی | ۲۵۴ | قلم اؤ جنډه ـ کرسی اؤ کند | ۲۷۷ |
| تور خنجر ـ عظمت داسې | ۲۵۵ | سره پښتو ـ د کور درغلی | ۲۷۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| مضمون | صفحه | مضمون | صفحه |
|---|---|---|---|
| چې جرګه نۀ ... ـ پښتو شته | ۲۸۰ | | |
| د نیت پسات ـ تماشه ده | ۲۸۱ | | |
| کوه چې څۀ ... ـ مرګ اؤ ژوند | ۲۸۲ | | |
| خپل سر ـ شا زلمے یم | ۲۸۳ | | |
| زۀ ـ په سپینه جامه تور | ۲۸۴ | | |
| بس د ننګ ... ـ خپل پردی | ۲۸۵ | | |
| بې ننګی ـ امتحان | ۲۸۶ | | |
| د منزل غم ـ نۀ د نن نۀ د سبا | ۲۸۷ | | |
| په سفرونو کښې د ... خر بتك | ۲۸۸ | | |
| محبوبا د پښتو ـ حوُرې | ۲۸۹ | | |
| د کوډر مازیګر ـ کوچی | ۲۹۰ | | |
| أولس اؤ حکومت ـ عجیبه ده | ۲۹۱ | | |
| واعظ اؤ لیډر ـ سپینه جامه ... | ۲۹۲ | | |
| پنکه ـ کرل ربل | ۲۹۳ | | |
| زما وینه ـ چاپلوسی | ۲۹۴ | | |
| دا هوښیار؟ ـ تېر عمر | ۲۹۵ | | |
| رښتیا لېونے ؟ قلم زما عَلَم | ۲۹۶ | | |
| لار د ښاغلو ـ زما باز | ۲۹۷ | | |
| پښتانۀ څۀ .... ضعف اؤ سنګر | ۲۹۸ | | |
| نوې مېدان ـ غم د پښتون | ۲۹۹ | | |
| د پښتو چغه ـ غېرت | ۳۰۰ | | |
| ملنګ ختك | ۳۰۱ | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رباعی

ستا د تخلیق لویه لمن کښې ربه!
ما پسخوی دا رنګارنګ دُنیاګی
ما ته زما د پښتو جوړه راکړه
زما د مینې او د ننګ دُنیاګی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دُنیا

د زړه دُنیا د میني ډکه د ښکلا دُنیا
د ګل په پاڼو یو لحظه خوږه مُسکا دُنیا
زما د ژوند د ناکړدو د لاسه سوې سوې
د وخت د جبر له څپېړو په ژړا دُنیا

# ذهن

ذهن د فکر د تخلیق د پلوشو اَئینه
زما د میني د شعور د ولولو اَئینه
د زمانې تورو لوګو پرې داسې لوبې وکړې
نن د غمونو، ارمانونو د تیژرو اَئینه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ژوند

ژوند د آدم بابا نړۍ ته د جنت پېغام
زما تکل ئې د انسان د شرافت پېغام
کۀ په صحرا کښې يوه چغه شوه پروا ئې نشته
دا د پښتو د ننګه ډک مې د غېرت پېغام

# زۀ ئې څۀ کړم

يو راته راشي، ځان راته ورور کا
بل په کښې راشي، ځان راته يار کا
اوس ئې نور څۀ کړم، څۀ نه وو نۀ شول
کۀ ځان مې زوئې کا، کۀ ځان مې پلار کا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماشوره

ډُنیا د سُود په لور کږه شوه
پښتو ترخه شوه، پښه خوږه شوه
فېصله ټوقه، جرګه نخره شوه
زندګی څۀ شوه، یو ماشوره شوه

# ماده پرده ده

زړۀ راته وائی، چې ټول دی خپل کړم
مینه مې وائی، چې ښۀ دې ښکُل کړم
روح مې نعرې، کړې دا خو ماده ده
دا ستا جذبه ده، توره پرده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جرګه

د چا په ترخ کښې، غرض باجه ده
د چا مغزو کښې، بله نشه ده
ملنګه ځان ژاړې کۀ خاندې
ستا خو پښتو ده، ستا خو جرګه ده

# افلاطون

د خیام اؤ د افلاطون وه معامله
فلسفیان ئې وو ولاړ په تماشه
ملنګ خېل سر ګروۀ، ترینه روان شو
وې چې دواړه یا ړاندۀ دی یا نشه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# مینه مستیده

یو د وخت نشو کښې هسې خندېدو
بل د فکر په جنجال کښې غمبېدو
زما ذوق د ښکُلې سترګو نندارو کښې
د ژوند لوبه کښې په مینه مستېدو

# دیدار

چا وې ګُل ښۀ، چا وې لعل ښۀ، چا وې یار ښۀ
هلته بیا جنت اؤ دلته کښې بازار ښۀ
ما وئیل د ژوندون لوبه د مرګ ویره
په دا منځ کښې ئې یو درنګ د یار دیدار ښۀ

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خیر

یو به رقیب وی، بد به کتل کا
بل به حریف وی، بد به وئیل کا
ملنګ، ملنګ دے، کچکول کچکول دے
خیر ئې ژوندون دے، خیر به کؤل کا

# مینه اؤ وینه

اے مجنونه! کړې خراب د لیلٰی مینې
د نبکۍ لارې نۀ ګورې، نۀ ئې وینې
هغۀ وخاندل چې ډېر ښۀ یم ګلاپه!
چې په دې خبرو نۀ ځښم د چا وینې

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library


# بې صبري

دغه ژوند د محبوبا هغه قلا ده
چې په کومه لار ئې څمه حېرانېږم
خو د خپل ننګ د نظر سره څۀ وکړم
تـګ کۀ نۀ کیږي نو زۀ کله صبرېږم

# ځان سره غم

وجود یخیږي، جذبات سړیږي
ذهن ګډوډ شي، فکر ورکیږي
د ښکار مرغان جالې ته راغلل
اوس نو د ځان سره غمیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تکل

قضا طوفان دے، اباسین چله
اسمان تورتم دے، په مزکه هله
کشتۍ سورۍ ده، متې ستومانه
د الله فضله، خپله تکله

# باجه ګۍ

د چا په ترخ کښې، يو باجه ګۍ ده
د چا په شونډو، بله شپېلۍ ده
د سُر اؤ تال، تميز يې نشته
خو غږوي ئې، لوبه هرځايۍ ده
زړګيه ستا دې، د پښتو ننګ وی
کۀ مزکه اور وی، کۀ اسمان جنګ وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما میراث څه شو؟

چرته شوې خوشحالؒ بابا! څه شوې باچا خانه؟
څه شوله! اؤ ولې؟ مارګله تر بدخشانه
غلو هر څه تالا کړل، که کوربه ؤ هر څه وخوړل
زه د خپل میراث پوښتنه وکړمه د چا نه؟

# کور اؤ ګور

چې جوړ مې نه شو د پښتو کور
ماته جوړ نه کړئ د خښتو ګور
خپلو پردیو داسې مې پرېږدئ
که سپین وم، سپین بنه، که تور وم تور

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نظر باز

کۀ وجود مې تول بې وسه تش تصویر شو
د نظر باز مې لا تېز اؤ هواګیر شو
چې د حسن په ښکالو پوهـ شي ببر شي
د خپل ښکار په کار کښې هغسې کاسیر دے

## لا ژوندے يم

نه منډې پاتې، اس ئې پردے دے
لارې ړندې شوې، مېدان ډونګے دے
چې نۀ صبرېږی، اؤ نۀ پټېږی
خټک به څۀ کړی، چې لا ژوندے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څۀ وؤ او څۀ وۀ شول؟

عمرونه تېر شو، خو څۀ ونۀ شول
زاړۀ خوارۀ شول، نوی خوارۀ شول
کچکول ته ناست یم، رباب ته ګورم
خدایه! دا څۀ وؤ او دا څۀ وۀ شول

## دا قافله

ماته وائی راشه، چې ځو مکې ته
خپله ئې مخ دے، درمسالې ته
میروېسؔ خفه دے، خوشحالؔ غصه دے
دې خان ملا ته، دې قافلې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو

اے زما د هلکوالی لېونتوبه!
نن واپس په منډه منډه راشه
دې د عقل هوښیارانو ډېر خطا کړم
مرګے راوړه، خو پښتو، مینه وفا شه

PUKHTO.NET

# د ننګ لار

د غرض دا قافلې ټولې رندې شوې
د غلو ډکې شوې، کږې شوې، هم وړې شوې
چې د ننګ، پښتو، انسان منزل ته رسی
هر چې شوې نو هغه ښې شوې هغه ښې شوې

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وفا در

زۀ ګدا نۀ يمه مئين يم، خوږې سترګې غوارم
ماته خو بس د ګل د مينې ډک نظر پکار دے
لاره کښې ډکې پيمانې اؤ مېخانې څۀ کؤم
زما جنون ته خو د يار د وفا در پکار دے

PUKHTO.NET

# دوه رُخه

چې ما وژړل تا وخندل نو ښه شوه
زما مينه کۀ کچه وه هم پخه شوه
زۀ دې خپل اولس ته خړ خادر کښې پرېښوم
ستا د غېرو د "لالا" بنګله کښې شپه شوه

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دُنیاداری

چا وې ورورى ده، چا وې يارى ده
چا په کښې ووې چې ديندارى ده
ما چې پرې ځان له څۀ فکر وکړو
شا ته ئې ټوله دُنيا دارى ده

# دا دين

زۀ ئې په تش کتو کافر کړم
خپله ئې ځنې اؤ مسلمان دے
په يو کتاب کښې دوه مسئلې شوې
دا لا کوم دين دے اؤ کوم ايمان دے

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو درنګ دے

وخت په هوا دے، نۀ حصارېږى
پرون دې لاړو، نن دې تېرېږى
سبا ئې نشته، چې څۀ به کېږى
دغه يو درنګ دے کۀ دې ارزېږى

PUKHTO.NET

# د چا شوه؟

د مُلا بانګ دے زما تپه ده
دا ئې ژوندون دے، دا ئې قيصه ده
دُنيا د چا شوه، عقبا د چا شوه
دا خو جګړه ده، دا خو لانجه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ماته غل دے

خپله خو خیژی، بر تر اسمانه
پښې ئې چاپېر کړې، تولې دُنیا نه
دغه اورِ سترګے، لا ماته غل دے
لاس نۀ وباسی، مې له ګرېوانه

# باتوریم

خو په وینه د مزری په خوئی باتور یم
داسې ټینګ ولاړ په ننګ د خپل دستور یم
چې په فکر اؤ عمل کښې انقلاب یم
د پښتو مزاحمت یو سور سېلاب یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل فن د بل نقل

دلته د ټپې د شعروفن بنائست کښې هرڅۀ شته
اے وروره! په مخ ورته پردی رنګونه مۀ تپه
دلته د مغرب د فن کچه نقلونه مۀ کوه
مونږ ته د پښتو د ګُل غوټو مخونه مۀ تپه

PUKHTO.NET

# نوې ګُل

کۀ ډېر ئې تاؤ راتاؤ کړې خو ماتيږی ګورې نا
تس نس يو خو ننګو نه مو ورکيږی ګورې نا
ختکۀ ! کۀ رشتيا شو مونږ، دا هر څۀ به رشتيا شي
د وينو په دې ډنډ کښې به يو نوے ګُل پېدا شي

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دې خپل رنځور زړه ته

زړګيه! ته چې، دُنيا پرېږدې
د ژوند کتاب مې رابنده وې
نو دا ښکالو چې د جانان ده
دا څه کوې؟ دا څه کوې؟

هسپتال کښې

## ډاکټره بس!

ډاکټره! بس دے، زړه لاړ خفه شو
په مرض نه دے، په زمانه شو
ورته مې جام د وينو يوړو
هغه ئې لاس کښې را ،اپوته شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دې خپل رنځور زړه ته

زړګيه! ته چې، دُنيا پرېږدې
د ژوند کتاب مې رابنده وې
نو دا ښکالو چې د جانان ده
دا څه کوې؟ دا څه کوې؟

هسپتال کښې

## ډاکټره بس!

ډاکټره! بس دے، زړه لاړ خفه شو
په مرض نۀ دے، په زمانه شو
ورته مې جام د وینو یوړو
هغه ئې لاس کښې را ،اپوته شو

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هیڅ ونۀ شول خو وشول

چې څۀ مې کړې شول، هغه مې وکړل
چې څۀ پکار وو، هغه ونۀ شول
لار مو د وینو، بلې ډیوې کړې
کۀ هیڅ ونۀ شول هم ډېر څۀ وشول

# کته باز یم

زۀ د خپلو هسکو تورو غرونو کته باز یم
دا د غرضونو لبونی مې ښکار کوی
زۀ د کړلیچونو، غورځنګونو شین زمرے یم
دغه دوکه شوی ړاندۀ ما هم بار کوی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نۀ وو نه نا

زۀ د خوږې چینې په غاړه به له تندې مرمه
چې د دیدن په وخت نۀ "هو" کوې نه "نا" کوې
زۀ مجنون نه یمه پښتون یم، سوال کوّلے نۀ شم
تۀ لیلٰی نۀ ئې پښتنه ئې، نو حیا کوې

# چغه یم

چغه یم خو ژوندون د خپل مرام یم
د بشر[1] په وروولۍ کښې د خپل قام یم
مرګ اؤ ژوند زما د لارې مرحلې دی
زۀ روان د پښتنو په ننګ و نام یم

1 انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يوه قطعه

د زلفو په تيڅرو کښې ستا د سترګو په ډيوو کښې
مزل د مينې کيږي د منزل د لېونو
زړو مئينو! لږ ګودر کښې ګرمه ګډا غواړي
په بر ګودر کښې چغه د مېوند د لبونو
اسمان به خپله چار کوي ختمکه تۀ خپل کار
ډولۍ به ګورې بائيلې د اغيارو په اسرو

## ما ورکوي

ماته ربّ راکړے د جنت په شانې کور دے
دا چې د اسمان د کهکشان غوندې روښان دے
ماته خدائې راکړے د وطن مړنے ورور دے
دا چې د غيرت اؤ شرافت ښکلے انسان دے
نن"لالا" "چاچا" په هر څۀ سترګې پټوي
ما ورکوي ځان له په ما لارې جوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تور خنجر

دا چې د نړۍ دې بحرانونو لېونی کړل
هر خوا ته ړانده کاڼه چکونه لګوی
ما، زما تاریخ، زما ټاټوبے هېروی
لویه پښتونخوا رانه په مکر پټوی
ماته په سینه راننه باسی تور خنجر
ښيي کښېږدی د خپل غرض زما د ژوند په سر

# عظمت داسې

ستا د خوږو ښو لشو کښې کۀ عادت داسې دے
زما د مینې په زخمونو کښې عزت داسې دے
د غزل فن کښې د ژوند هسې د ښائست په ژبه
د لوړ ژوندی شاعر کمال داسې، عظمت داسې دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما لېونتوب

اې زما د پښتون والي لېونتوبه!
نن په چغو چغو زر راپسې راشه
دې د عقل هوښيارانو ډېر خطا کړم
مرګے راؤړه، خو پښتو، مينه، وفا شه

# روښانه مزل

کاروان د غلو شو، تګ د پردو شو
سترې زړګيه! وخت د تيارو شو
لاره کښې کښېنه، اسمان ته ګوره
کۀ دې مزل، په رڼيدو شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ننګ اؤ رواج

زما ژوند چې احتجاج وۀ احتياج شو
کلے هغه دے خو بل شانې رواج شو
ننګه! ووايه چې ستا نو کومه لار شوه
چې بدل د زمانې درته رواج شو

## حيرت

ما خو وې چې ژوند اؤ سر به ترې قربان کړم
مرګ به مينه اؤ وفا د خپل جانان کړم
زمانې چې پرو بال راځنې پرې کړل
بې وسې مې نن په دوه ؤ کښې حيران کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عقل

زړۀ د وينې اؤ د مينې ائينه ده
ذهن بس د ژوند د لوبو پيمانه ده
په دا منځ کښې چې ئې زۀ يمه نو څۀ کړم
عقل خپله يو ناحله معمّه ده

## معمه

علم يا ويره شي اؤ يا 'اسره شي
ژوند مخمصه شي، تک معمه شي
سړے حيران وی اؤ حيران لاړ شي
نو نۀ هغه شي اؤ نۀ دغه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بُلبُل ژړا

یو بُلبُل مې د ګُلو سیورې ته لیدو
خوزېدے نۀ شو، په ځائې به رپیدو
ما وې والوځه! ښائست ته ګډا وکړه
دۀ خپل ځان ته وکتل اؤ ژړیدو

# قلم اؤ غېرت

خپل بې احساسه، یاران بې پته
پردی بې مخه، اغیار بد نیته
کچکول دې کوز کړه، رباب دې کښېږده
قلم راواخله، خپله غېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتون ولي

خان کاکا هر څۀ هر څۀ پرېښول ممبرۍ پسې
مُلا محراب اؤ منبر هېر کړل په کرسۍ پسې
خلقه د خوار و زار ملنګ دې وچ تندي تۀ ګورۍ
دے زوړ کچکول لاګرځوي پښتونولۍ پسې

# څـۀ شوې؟

جندې رپېږي، د پښتو نۀ شوې
چغې شوې ډېرې، د عمل نۀ شوې
چې نۀ د جنګ شوې اؤ نۀ د ننګ شوې
کۀ ښکلې ډېر شې نو هم د څۀ شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتون اؤزه

خندل مې وکړل نو د خندا شوم
ژړا لیکمه چې د ژړا شوم
ما د پښتو، لېونتوب وکړو
پښتو زما ئې اؤ زه د ستا شوم

## ځان سره

وجود یخیږی، جذبات سړېږی
ذهن ګډوډ شی، فکر هېرېږی
د ښکار مرغان، جالو ته راغلل
اوس نور د ځان، سره غمیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ننګ مې راپسې دے

نن ژوندون د محبوبا هغه قلا ده
چې په کوم لورې ئې ځمه حېرانېږم
ولې څۀ وکړم چې ننګ مې راپسې دے
تګ پرې نۀ کېږی، خو زۀ چې نۀ صبرېږم

## ړندې قافلې

یو خوا ذهن اؤ زړۀ سترې تجربې دی
بل خوا وخت وائی چې نوې مرحلې دی
اے د ننګ اؤ د شعور احساسه وایه!
لاره شته خو دا ړندې چې قافلې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل مرام

اے غېرته! وایه تهٔ پکښې څهٔ وائې؟
زړې غوارې کهٔ څهٔ نوې راته ښائې؟
دا تار تار دستار به ملا ته کمربند کړم
کهٔ د خپل مرام په سمه لار مې بیائې؟

PUKHTO.NET

# پښتو

د ننګ لاره کښې هم تخت وی هم تخته
کهٔ دا نهٔ منې نو دېخوا مهٔ راځه
پښتو دا ده چې د ننګ سودا ونهٔ کړې
مرحله به هم خوږه وی هم ترخه

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خدمت

راته وائی اس تیار دے راسوربږه
بس د زور اؤ زر په بادو وپرسبږه
ورته وایم د خدمت زین راته گوره
د دولت خبرې مهٔ کوه ورکبږه

## پښتون یم

راته ښائی ښې بنګلې ښکلے سمون
لمسوی زما دا خوار وزار ژوندون
ورته وایم لږ په ځیر راته اوګوره
زهٔ پښتون یمه، پښتو یمه، پښتون

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library


# روښانه سیاست

مینه رانه پت غواړي، وطن رانه خدمت غواړي
یه! ملګرو داسې سیاست نوې حکمت غواړي
راشئ چې دا مینه اؤ غیرت سره جرګه کړو اوس
وخت ګورې نن داسې یو روښانه سیاست غواړي

# پت

دا د ژوند کږې وږې اؤ اُوږدې لارې
چې په هر قدم کښې ډېرې خطرې دي
خو چې مخامخ د پت، مینې، منزل وي
نو د ټولو شیرینیو نه خوږې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو کاڼی

کۀ هغو په لاس کښې مم راته نیولی
ما په زړۀ کښې ورته ننګ و پت ساتلی
وخت کۀ هر څو د چپو چپو سېلاب شي
د پښتو کاڼی سیند نۀ دی بهیولی

## عَلَم اؤ قلم

سوال پېدا دے، نن د ژوند په لوئې مېدان
نن حالاتو کښې قلم بنۀ کۀ عَلم بنۀ
ما چې ډېر فکر په هره سطحه وکړو
اے ساده خلقه! علم ته هم قلم بنۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اودهٔ

موسم ښهٔ دے، خاؤره ښه ده، تخم ښهٔ دے
ولې ما سره کهٔ غم دے نو دا نهٔ دے
د نن کر اؤ د سبا فصل به څهٔ کړم
چې قـُلبه ورانه، دهقان ئې لا اودهٔ دے

# همت اؤ اِراده

د موسم اؤ د حالاتو خپل عادت وی
خو خبره د خپل نیت اؤ د همّت وی
کهٔ همّت اؤ اراده په خپل سمون وی
نو بدل شی کهٔ اسمان وی کهٔ قسمت وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حیرت

دا الزام چې په قسمت دے
بدبختي نۀ ده، غفلت دے
کۀ همّت پکښې پیدا شو
خره خاوره هم جنت دے

# حسن

زړګیه! جوړ ئې، لکه د مینې
نۀ چې د غوښې، نۀ چې د وینې
بیا نۀ په ځان ئې، نۀ په جهان ئې
چې حسن کسې، چې ښکلی وینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زړګوټے

شپه توره تپه، موسم طوفان دے
په کور جړې ده، محشر جهان دے
زړونه خيرن دي، سترګې بدلې
زړګوټے نر دے، چې لا روان دے

## سيورے

کۀ دا کاروان وي، دا ئې خاروان وي
دا ئې رفتار وي، دا ئې ياران وي
سترې زړګيه! سيورے ترې ښۀ دے
کۀ د پلوشې وي، کۀ د دالان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هستي

د هستۍ دا مسئله يو معمه ده
مخمصه ده چې نۀ هغه ده نۀ دا ده
د دُنيا ژوند د درياب په مخ حُباب دے
قيام نشته، نۀ اختيار شته، نۀ بقا ده

## ورور ورور نۀ شو

دا د ابليس جاله شوه نن د آدم کور نۀ شو
دلته کښې هابيل قابيل ورونه وو خو ورور نۀ شو
ټول هاديان ئې ستړی کړل هر کتاب ئې وخوړو
تور دلته کښې سپين نۀ شو، سپين دلته کښې تور نۀ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما ګناه ده

بس نۀ خپل ته ګوته نيسم نۀ پردو ته
ګناه نشته نۀ هغو ته، نۀ دغو ته
زما جرم زما خپل ړوند اعتماد وۀ
چې خوشحال ومه د نورو بوساړو ته

# کږې لارې

ما وليدې چې ځې، ځې د رقيب کالۀ ته رسى
دا لارې د ديدن مو پاکه خدايه! داسې غلې شوې
دا هسې نه چې ورځ ئې د مئين د جنازې شى
دا شپې چې بلاګانې شوې، تيارې شولې اُوږدې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما مضمون

زما مضمون زما خواهش، نمود، ريا نهٔ وی
زما په ذهن خو راځی، ولې زما نهٔ وی
چې د حالاتو په تود بټ کښې زما زړهٔ نينه شی
يا په ټوپونو شی، يا وچوی، يا ټقار جوړ کړی
فکر اؤ خيال ورته جامه احساس ئې رنګ پيدا کړی
قلم راپاځی د الفاظو نه اشعار جوړ کړی
بيا ستاسو خوښه ده چې دغه کوم مضمون بولئ
کهٔ د شاعر انسان په خُله ئې ځګرخون بولئ

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سرېتوب

عجیبه غوندې موسم شو
باران وینې، ورمې اور شو
سرې توب لاړو دهشت شو
نهٔ ورور پاتې شو، نهٔ کور شو

## دا ماحول

چې ژوندون د بې ارزی شو
چې مرګې د بیوسی شو
لویه خدایه! لویه خدایه!
دا ماحول مې تیزندی شو

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د صحرا فریاد

چې پښتو سود اؤ سودا شوه
د بیوپار په دې دنیا کښې
د غېرت چغه بس پاتې
یو فریاد شو په صحرا کښې

# ما رها کړه

لویه خدایه! لویه خدایه!
اخر ستا یم څۀ خو راکړه
ګنی څه هر څۀ دې واخله
ما تنها کړه، ما رها کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دُنیا ګنده شوه

خدایه! دا دُنیا خو دې پوره قصاب خانه شوه
پاکه د آدم، دا خونه لاړه ښه ګنده شوه
دا د ژوند لمنه ټوله څیری ویری لاړه
یو خوا زور اؤ زر حکم شو، بل خوا ته فتوه شوه

هر چا ځان ته خپل معبود د خپله لاسه جوړ کړو
ګوره استعمال په کښې کعبه اؤ کلیسه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# صحت اؤ غېرت

صحت وائي چې د کټ نه مۀ کوزېږه
غېرت وائي پاسه پاسه وزغلېږه
د دې هر څۀ سره زۀ ښۀ پوهېدے شم
وخته تۀ راشه نور مۀ اپوته کېږه

# د غېرت لېونے

زۀ د خپل بابا د وينې يو زلمے وم
د مرام لار کښې د مينې ننګيالے وم
چې مې تول عُمر صحرا کښې مزل وکړو
لکه زۀ چې د غېرت يو لېونے وم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## سره پښتو

کله سر ته راته کښيني، کله پښتو ته
ما راکاږی له ترخو ځنې خوږو ته
دوی ته خړ پړ، اوږې تږې خو ښکاريږم
ولې نۀ ګوری زما سورکې پښتو ته

## د کور درغلي

ولې ګوته هسې ونيسمه چاته
چې مورچه مې خپل لښکر کړه راته ماته
چې په کور کښې د نيتونو درغلي وی
هيڅ ګيله نۀ ده پکار د بل پسا[1] ته

---
[1] پسات، فساد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما وېنا

نهٔ خفه یم، نهٔ مایوس یم، نهٔ پښېمان یم
دغه ګډو وډو چارو ته حېران یم
کهٔ د وخت روغ لېونی ترې سبق واخلي
لګیا ځکه په وېنا اؤ په بیان یم

PUKHTO.NET

## شلېدلے کټ ولې؟

نن هم ژوند د پاره مرګ ته غاړه ووځم
کهٔ د ننګ مېدان جوړېږي ورته ووځم
خو کهٔ لوبه د چل ول د سود سودا وي
خپل شلېدلی کټ ته لاړمه پرېوځم

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چې جرګه نۀ شوه

اے باباؔ ! چې توره ونيوه زنګونو
قلم ګرځی د اغيارو په رنګونو
چم پردے شو اؤ جرګه مرکه نۀ شوه
کومه لار شوه د پښتو اؤ د ننګونو؟

## پښتو شته

چغه شته حساب کتاب د معاملو شته
شنۀ باغونه د وعدو اؤ د دعوو شته
خو ساده غوندې جواب به ئې څوك راكړی
چې په دې قبر "شكرې د پښتو" شته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نیت پسات

چې یارۍ کښې ګرېوان څیرې، بنګړي مات شي
نو خوندونه خو د مینې هله زيات شي
ولې دا لا کومه لوبه په کښې وشي
چې په نيت کښې راپيدا چرته پسات شي

## تماشه ده

تماشه ده څوك محمود شي، څوك اياز شي
د خبرو وخت کښې هر يو کټه باز شي
خو چې سود اؤ زيان له ورايه رانبکاره شي
د تنزرې غوندې ګېر په خپل اواز شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوه چې څۀ کوې

څۀ مې نۀ دی کړی، ووایه چې ئې وکړم
ولې زۀ د پټ پټونی لوبه نۀ کړم
چې دې سترګې شوې په نوی دود بدلې
تۀ کوه چې څۀ کوې زۀ به دې څۀ کړم

# مرګ اؤ ژوند

کۀ خفه، کۀ ګیله من یم، کۀ غصه یم
خو ولاړ هم په لښکر هم په مورچه یم
ماتېدے نۀ بدلېدے نۀ خرڅېدے شم
چې پښتو ئې مرګ اؤ ژوند دے زۀ هغه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپل سر

ګرځېدلے هم په غرۀ يم هم په سمه
در په در مې د ليلىٰ د ديدن طمع
هره هڅه، هر تکل مې هر خوا وکړو
خپله غمه! په خپل سر ئې زما غمه

## شا زلمے يم

دا خټکّ چې نن په کور کښې بوډا ښکارى
د ننګ چغې ته مېدان کښې شاه زلمے دے
ګُله! دے به چاته هغه، چاته دا وى
خو چې ستا خبره راشى، لبونے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زړه

په راستی، په خوشحالی ورسره ځم
د خدمت د ابادی به ئې منم
خو کله پټ ئې بیا په بده باندې پیاز وڅه
نه منم، نه ځم، نه اؤرم، نه کؤم

PUKHTO.NET

## په سپینه جامه تور

خپلو ونه پېژندو، ښه ئې وزپلو
پردو وپېژندو ډېر ئې ووهلو
د ختمك د ننګ د عمر دا سزا شوه
چې په سپینو جامو تور کړو پردو خپلو

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بس د ننګ مېدان

ځۀ به جنده کړم، ځۀ به لښکر کړم
خپلو تربور کړم، پردو کافر کړم
ځۀ شوې زما، د ننګ مېدانه!
چې سر قربان کړم، زندګی درکړم

# خپل پردی

ژوندون ډېر صفا په غُرزو پُرزو تېر شو
ذهن ژوبل، غم سېوا شو، فکر ډېر شو
خټک کور ته بس يوه خبره راوړه
پردی ووهلو، خپل ئې په سر تېر شو

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې ننګۍ

چې ننګ سودا شي، مینه دُکان شي
هېره پښتو شي، پاتې مېدان شي
څۀ به اټك شي، څۀ به خېبر شي
څۀ به هېواد شي، څۀ به افغان شي

# امتحان

وائي راپاڅه وخت د مېدان دے
وايم تياره ده، ذهن حېران دے
ننګ اؤ شعوره! تۀ رامدد شه
پېښه لانجه ده، لوئې امتحان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د منزل غم

پردی پردی دی، خپلو کښې چل دے
اولس اوده دے، کلی کښې غل دے
د غیرت چغه په شور کښې ورکه
غم د مزل دے، ویر د منزل دے

# نۀ د نن نۀ د سبا

په اسرو اسرو، بانو بانو خطا شو
خان اؤ قوم ته نۀ د دین نۀ د دُنیا شو
چا مونږ خرڅ کړو اؤ په چا باندې دوکه شو
کۀ پوهېږو نۀ د نن نۀ د سبا شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په سفرونو کښې د وطن یاد[۱]

راشه راؤړه ډک کنډول سپینې شوملې
چې مې هېرې شي پردۍ شونډې کاسې
زما خپلې ګُل غوټۍ به وي شاربلې
تورې سترګې، غوړې خنې، سرې غُنچې

چې مستي مې د پښتو په خوند پوره شي
رانه هېره دا پردۍ پردۍ نخره شي

---

۱- سوچي- قفقاز- کوهِ قاف کښې-

## خړبتک

خړکې بتک راوړوه دهقانه!
چې په لپه اوبهٔ وڅښمه لتانه
په هر ګوټ کښې ئې زما د خاؤرې خوند وي
مېخانه دې وي د دې مخکښې ویرانه

چې نشه پکښې زما د شنو چینو ده
أؤ مستي پکښې د ننګ أؤ د پښتو ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# محبوبا د پښتو

چې کلبونو کښې مستی نخرې کوی
دا کلك سترګې حیاګانې خرڅوی
د خپل کلی دُرخانی ته به ئې لوګے کړم
کۀ ځانی د کوهِ قاف ښاپیری وی
د سپوږمی نه هم ښائسته ده په رڼا کښې
چې حیا ده د پښتو په محبوبا کښې

# حوُرې

په بانه مانه چې ساګو ته راغلی
څومره ښکلې دی دا پېغلې مې د کلی
تورو سترګو کښې ئې پته مینه خاندی
یوې بلې ته لګیا دی غلی غلی
چې هم حسن شی هم مینه هم حیا شی
داسې حوُرې به لا بل چرته پیدا شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ګودر مازیګر

دا ملالې پټ پټ کوم خوا ته کتل
دا د چا د شپېلۍ ځغ ئې اؤرېدل
چې منګے ئې ترې په مزکه راګُزار شو
دا حېرانه شوه نوکونه ئې چیچل

د ګودر مازیګرې کښې دا قیصې وې
د وطن د سیند د لارې دا مزې وې

# کوچۍ

کوچۍ چې د کیږدۍ سره ولاړه وې سپوږمۍ وې
چې کوچ کوې روانه وې نو ښځه مسته هوسۍ وې
د خپلې قلا منځ کښې ناسته ښکلې ښاپېرۍ وې
د ننګ د جنګ په وخت کښې د سُور تندر ملالۍ وې

د لوړ نیکۀ د وینې یوه پاکه دُردانه وې
زمونږه د پښتو د مینې جوړه خزانه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# أُولس اؤ حکومت

حکومت تشې وعدې دی یا دعوې شوې
سیاست هسې خبرې شوې، دوکې شوې
د أُولس حالت د دوی ترمنځه دا دے
د خاروی د قصابانو کره شپې شوې

# عجیبه ده

لبن دبن واشنګټن کښې وی
خرخ دلته پاکستان شی
غرقه اکبرپوره شی
تیراه کښې چې باران شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## واعظ اؤليډر

ملك په قرضو كښې غرق دے
اولس د لوږې نه مرى
واعظ د حورو غم كښې
ليډر كرسى خپلوى

## سپينه جامه توره قيصه

وخت په چغه وائى اے غريبه وروره!
چې ورځې چرته نو خپل څادر ته ګوره
غلا به دوى وكړى اؤ تا به پكښې غل كړى
د غټانو جامه سپينه، قيصه توره

PUKHTO.NET
PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنګه

داسې تش کچکول دې ولې دے ملنګه!
ته خو هم راغلې د سرو زرو له درنګه
ما وې واوره ځان په دې خبره پوه کړه
"پنګه، پنګه، د غټانو کور ته پنګه"

PUKHTO.NET

# کرل ربېل

تور ته څمه، سپین ته څمه، زیړ ته څمه
د جانان د کور پوښتنه ترې کۆمه
هر یو ماته در د خپلې لبلې بنائی
اوس په منځه لار کښې ناست کرم ربېمه

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما وينه

دا منم ډاکټره! پاکه زما وينه
د مرض پکښې څۀ نشته، څۀ به وينه
خو د ننګ يو جراثيم پکښې ضرور شته
دا چې ما هم زوروي، هم سوزوينه

# چاپلوسي

راشئ خلقه راشئ! نن په کلي، کښې اشر دے
يو مست په خبرو، بل په لښته، بل په جر دے
ګټه د بادار ده، خوارو زار پکښې دليري
غټ چاپلوس ته وګوره، له ټولو معتبر دے

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دا هوښیار؟

د قام ننګونه، چې وړی بازار ته
نۀ ګوری ځان ته، نۀ نیکۀ، پلار ته
اے د پښتو، د پت جنونه!
وایه څۀ وائې، دغه هوښیار ته؟

# تېر عمر

چې عمر تېر شی، تن مرضونه
ژوند محتاجی شی، فکر غمونه
ساده زړګیه! ومنه پوهه شه
چرته ټوپونه، څنګه کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رښتيا لېونے؟

لېونے به لا بل څنګه وي عالمه!
زه ئې غم خورمه دا ټول رانه بې غمه
چې په ګټو، لوټو، غنو مې څوك اُولي
زه مُسکے شمه دُعا ورته کوّمه

# قلم زما عَلَم[1]

زما يو بابا قلم دے، بل علم دے
ما په دواړو سم خوړلے يو قسم دے
که علم رانه څوك واخلي غم ئې نشته
زما لاسو کښې مې توره، خپل قلم دے

[1] جنډه، نشان، بيرغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لارد ښاغلو

کور د بهرامٓ شو ملك د مغلو
ننګ د غرض شو، جنګ د کړېلو
د وخت خوشحالهٓ ! په غرهٔ کښې کښېنه
اوس لارې څاره، د چا ښاغلو

# زما باز

کهٔ وجود مې ټول بې وسه تش تصویر دے
د نظر باز مې هم تېز دے، هم قجير دے
چې د حسن په ښکالو پوهه شی ببر شی
د خپل ښکار په کار کښې هغسې کاسیر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتانهٔ څڅهٔ شول

عمرونه تېر شول خو څڅهٔ ونهٔ شول
زاړهٔ خوارهٔ شول، نوی خوارهٔ شول
وخت د قُلبې دے، موسم د کر دے
فصل ئې ژاړی، پښتانهٔ څڅهٔ شول

# ضعف اؤ سنګر

د زوړ عمر ضعيفي مې غورزوی
احتياج مې شل کوی اؤ ماتوی
د ننګ وينه رانه ګرم سنګر غواړی
عمر جبر مې په کټ کښې سړوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوې مېدان

بار د عمر راته تن اؤ بدن زوړ کړو
بې وسۍ مې هغه ګرم ژوندون سوړ کړو
پاکه خدايه! چې دا څۀ لوبه راؤشوه
زۀ د کټ شومه، وخت نوې مېدان جوړ کړو

# غم د پښتون

دُنيا اړې ګړې ده
چار د ملك بې سمون دے
چې کور اؤ ورور ئې وران دے
غم مې د خپل پښتون دے

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو چغه

دا د ګل مينه ليونی ده کۀ دا زۀ لېونے
چې تش په بوی پسې تر څوکو د ازغو لاړمه
هلته منصور غوندې د ښکُلی د ديدن اواز وۀ
چې زۀ تر دار پورې په چغه د پښتو لاړمه

# غېرت

نور خپل دولت چيچي، ما خپل غربت چيچي
دُنيا مچی ده، هر يو حالت چيچي
زۀ ئې نۀ غم کړم، نۀ ترې وېرېږم
نۀ وروستو کېږم، چې مې غېرت چيچي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملنګ ختټک

په چم کښې د غټانو يو ملنګ غوندې ختټک وهٔ
تپوس وکړئ، چې سپو خوئې خوړلے چرته نۀ دے
نن ټول سړی خوارۀ د کلی خپلو کښې لګيا دی
اے خوارو! راپيدا ئې کړئ دا نن وخت د هغۀ دے

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**